بسم الله الرحمن الرحيم

## له خلافت پرته، ان د نړۍ تر ټولو ستر پوځ لرل هم امت له زيان او کړاو څخه نه شي ژغورلی

### خبر

په پاکستان کې موسمي بارانونو تر اوسه تر ۱۰۰۰ د ډېرو کسانو ژوند اخيستی چې ۱۱۹ يې يوازې په يوه ورځ وو. داسې راپورنه شته چې خلکو د ځان ژغورنې لپاره له چپرکټ او لنډمهاله نا مسلکي تجهيزاتو کار اخيستی.

په دې ډول پېښو کې د دولتونو دنده دا نه وي چې په مليونونو وګړي له کومې مرستې پرته د خطر په خوله کې پرېږدي يا ورو او محدوده مرسته ورته ورسوي. والدينو راپور ورکړی چې ماشومان يې د پرېمانه اوبو د ناڅاپه راتګ په سبب له منځه تللي.

د کورنيو چارو وزارت يوه چارواکي، سلمان صوفي د نړيوال ملاتړ په اړه نهيلي څرګنده کړه او ويې ويل: «پاکستان له اقتصادي ستونزو سره لاس او ګريوان و، اوس چې پر دغو ستونزو د لاسبري کېدو په حال کې وو، دا موسمي طبعي پېښې وشوې».

د ډان ورځپاڼې د راپور له مخې، د پاکستان لومړي وزير شهباز شريف د خيبر پښتونخوا ايالت لپاره، چې تر ټولو ډېر ځپل شوی، د ۱۰ مليارډو روپيو (۴۵ ميليونو ډالرو) مرستې اعلان وکړ.

شريف وويل، هرې سېلاب ځپلې کورنۍ ته به ۲۵۰۰۰ روپۍ ( ۱۱۲ ډالر ) ورکړل شي. د دغو پيسو وېش په يوه اونۍ کې کېږي. ( بی بی سی )

### تبصره

ايا يوه کورنۍ چې خپل هر څه او د عايدو سرچينه يې له لاسه ورکړې وي، په دې ۱۱۲ ډالرو خپلې اساسي اړتياوې پوره کولی شي؟ چارواکي د دې پرځای چې د امت د ژوند او مرګ وضعت ته پام وکړي، د عامه افکارو د غولولو لپاره يوازې سرسري اقدامات کوي. د پېردولو لپاره په سيمه کې هېڅ خواړه نشته او ټول کاروبارونه له منځه تللي. د پاکستان اقتصادي ستونزې د عادل اسلامي اقتصادي نظام د پرېښودلو پايله ده.

که شرعي قانون بشپړ پلی شوی وای، پاکستان به په دومره ذلت بهرنۍ مرستې نه غوښتلې. د شتمنې اسلامي نړۍ ټولې سرچينې به د پخوا په څېر په سمه توګه سره يوځای شوې وای، بې کوره شويو مسلمانانو ته به يې د مرستې يو لوی پکېج برابر کړی وای او له دوی سره به يې مرسته کړې وای چې خپل عادي ژوند بيا پيل کړي. په داسې شرايطو کې اساسي دنده دا ده چې زيانمنو خلکو ته لومړي بشري حقونه؛ خواړه،

جامې، سرپناه، روغتیایي خدمتونه او د زده‌کړې فرصتونه بابر کړي. سېلاب ځپلو ته د یو څو ډالرو ورکول د امت ستونزې هغسې نه حل کوي چې الله سبحانه وتعالی یې امر کړی.

پاکستان په نړۍ کې یو ستر او ښه سمبال پوځ لري، خو دا چې اسلامي  خلافت نشته او د کفري څواکونو سیکولر قوانینو ته ژمن دی؛ نو یوازې یوه تت تصویر ته ورته دی چې عملي ګټه نه لري. الله سبحانه وتعالی دې دا د ذلت او کړاوونو دوره د راتلونکي د تاریخ د کتابونو له متن څخه لرې کړي او د نړۍ مسلمانانو ته دې د اسلام له حکم سره سم ریښتني حقونه ورکړي.

**(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ)**

**ژباړه:** «ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! له الله څخه ووېرېږئ او له ریښتینو کسانو سره ملګري شئ.» [توبه ۹: ۱۱۹]

د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

عمرانه محمد

ژباړه: محمد هارون رؤفي